AjSO
Afghanistan Journalists Support Organization

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان
ستراتیژیک پلان

۱۴۰۲ لمریز – ۲۰۲۳ زیږیز

سریزه

مور په یویشتمه پیړۍ کې ژوند کوو، چې د اړیکیو، چټکو اطلاعاتو او معلوماتو ته د لاسرسي زمانه ده. د بیان ازادي، د رسنیو خپلواک فعالیت او اطلاعاتو ته د هر وګړي د لاسرسۍ حق د بشري حقونو د نړیوالو تعاملاتو په یوه حتمي او حیاتي برخه بدل شوي دي.

په افغانستان کې د ولسواکۍ د تمرین او شل کلن جمهوریت یوه لویه برېا د مطبوعاتو او بیان خپلواکۍ ته د ځان رسولو هڅه وه، چې اوس دننه په افغانستان کې په ټپه ولاړه ده. د رسنوالو او مطبوعاتي کورنۍ کې غړي هر کډوال شوي دي، بشري او تخنیکي ظرفیتونه د ضایع کېدو له ګواښ سره مخ دي.

په دې پار، چې :

- د بیان ازادي، اطلاعاتو ته د لاسرسي حق، خپلواک مطبوعات او په دې برخه کې ټول راټوکېدلي بشري ظرفیت خوندي پاتې شي،
- د رسنوالو د حقونو ساتنه وشي،
- په هېواد دننه او بهر د امکان تر بریده افغانان لازم اطلاعات تر لاسه کړي،
- په هېواد دننه او بهر، افغان ژورنالیستان او رسنوال د خپلو هراړخیزو ستونزو او غوښتنو د مطرح کولو او ورته د حللارو موندلو لپاره یو کډ صنفی – مسلکی بنسټ ولري،
- له ګواښ، زیان او رواني اسیبونو سره مخ افغان خبریالان وژغورل شي،
- پورته یادو شویو موخو ته د رسېدو په برخه کې له ټولو معتبرو نړیوالو سازمانونو سره منظم، منطقي او مسلکي اړیکي ټینګ شي،
- د افغان خبریالانو د مسلکي ظرفیت او توانمندۍ پورته کولو لپاره هراړخیز امکانات رامنځ ته شي،
- او د هرې صنفي اړتیا پرمهال افغان خبریالانو ته د مراجعې صنفي ادرس رامنځته شي
-

مور اروپا میشتو خبریالانو او رسنوالو " د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان بنسټ کېښود"، چې تر دې روسته به یوازې د (سازمان) په نوم یادیږي.

اړیکي:

سازمان به له رسنوالو (خبریالانو او د رسنیو د سکتور کارکوونکیو)، افغان او بهرنیو رسنیو، نړیوالو سازمانونو، د بشري حقونو او فرهنګ و مطبوعاتو په برخه کې له نړیوالو بنسټونو او په دې برخه کې اغېزناکو مستقلو شخصیتونو سره اړیکي ټینګوي.

د سازمان لپاره درې ډوله اړیکي خورا مهم دي:

۱. د امکان تر بریده له ټولو افغان خبریالانو، رسنوالو، رسنیو او مطبوعاتي بنسټونو سره، چې په افغانستان کې دننه او بهر ژوند او فعالیت کوي.

د دوی یو ډېتابېس جوړول او په یوه فعال نېټورک کې یې د نظریاتو ، غوښتنو، طرحو او ستونزو د شریکولو لپاره فعال کډون او حضور ته لار هواروول.

۲- له نړیوالو سازمانونو، مطبوعاتي بنسټونو، حقوقي، عدلي او بشري نهادونو سره، چې د مطبوعاتو په برخه کې کار کوي او د اړتیا پرمهال د افغان خبریالانو له حقونو څخه د دفاع لپاره مرسته کړلای شي.

۳- له افغان او بهرنیو متخصصانو، استادانو، مسلکي شخصیتونو، حقوق پوهانو او د صنفي ظرفیتونو د لوړولو له ماهرانو، اړواپوهانو او هغو کسانو سره، چې کړلای شي د سازمان د اهدافو له تحقق سره مرسته وکړي.

فعالیتونه

دننه په سازمان کې:

سازمان د روان کال د اګست په ۲۰ مه نېټه (/ /) د موجودیت اعلان وکړ.

- په رارواته یوه میاشت (/ /) کې سازمان باید د قانوني ثبت لپاره د المان محاکمو ته مراجعه وکړي او رسماً قانوني جواز ترلاسه کولو لپاره مراحل بشپړ کړي.
- سازمان تر (----------) پورې د خپلو تشکیلاتو، اداري او تخنیکي جوړښتونو د بشپړولو لپاره لازم اقدامات کوي.
- سازمان د خپلو چارو د لازمو مالي امکاناتو او مرستې د جذب لپاره اقدام کوي او د سازمان اړوندې څانګې باید: تر (----------) پورې لنډمهالیو او تر (----------) پورې منځمهالیو مالي اړتیاو ته سرچینې وموميي.
- د ویبپاڼې، ټولیزو رسنیو جالپانو او نورو دریځو فعالول، چې د سازمان پیامونه په اغېزناکه، چټکه او پراخه توګه ورسولای شي.
- د رهبري بورډ، مدیریتي او مسلکي کومېټو تشکیلات به (----------) پورې بشپړ شي.

د بهرنیو اړیکو په برخه کې:

د ټولو هغو اړیکیو د ټینګښت لپاره په سازمان کې څانګړې کومېټه کار کوي، چې اړتیا یې مخکې یاده شوې ده.

له زماني پلوه لومړیتوب؛

الف: افغان رسنوال، رسنیز او حقوقي بنسټونه،

ب: بهرني سازمانونه.

او

ج: مرستندوی شخصیتونه او بنسټونه دي.

د ظرفیت جوړونې، مسلکي، څېړنیز او علمي پیاوړتیا په برخه کې:

دا څانګه درې اساسي برخې لري:

۱. آرشیف جوړونه:

د افغانستان د ژورنالیزم تاریخ. ټول علمي کتابونه، کلکسیونونه، د نوموتو ژورنالیستانو پېژندنې له شمس النهاره تر دې مهاله.

حقوقي اسناد: نړیوالې اعلامیې، کنوانسیونونه، قوانین او طرزالعملونه. په دوی کې هغه اسناد لومړیتوب لري، چې افغانستان لاسلیک کړي او غړیتوب پې لري. د بشري حقونو د اعلامیې له منښت څخه تر نن پورې.

د افغانستان په کچ ټول ملي حقوقي اسناد، د سراج الاخبار له زمانې را په دې خوا، قوانین، لوایح، جوړښتونه او نور.

د جمهوریت د شل کلنې دورې اسناد لومړیتوب ګنل کیږي.

۲- د منځپانګې هستونه (تولید محتوا)، د لارښود متنونو تدوین:

د سازمان اعلامیې، پیامونه، تحلیلونه، حقوقي مشورې، لارښود متون او د سوابقو پر بنسټ د راتلونکي لپاره په تاکلیو مهالویشوکې د سازمان د لرلید او ماموریت تاکنه.

۳- څېړنه، زده کړه او ظرفیت لوړونه

د ژورنالیزم اساسات، دکړکېچ (بحران) پرمهال د خبریالې او خوندي ژورنالیزم لارښود، رسنیزه دایاسپورا یا د مهاجرت ژورنالیزم (حقوقي او مسلکي لارښوونې)

ورکشاپونه، سیمینارونه، سمپوزیمونه، تحلیلي ناستې، لنډمهالې او منځمهالې کورسونه او مرستندوی معلوماتي متون (ژباړه، تألیف، تدوین او د تجربو لېږد) په انلاین او حضوري بڼو.

د ښځینه رسنوالو او نورو اسیب پذیره خبریالانو د ځانګړې خوندیتوب لپاره لارښود متون او زدکړې.

ژورنالیزم د یوې داسې حرفې په توګه چې په چټکۍ سره نوی کیږي. (انلاین نړۍ). له تکنولوژۍ سره هممهال د ژورنالیزم د اساساتو بدلون، د اطلاعاتو په توپان کې د اړتیا وړ معلومات څنګه موندلای شو؟

انلاین ژورنالیزم.

کتابونه، د نصاب پر ورځ کول Updating

د ژورنالیزم اخلاق

څېړنیز ګزارشونه.

حقساتنه ، ملاتړ (دادخواهی او Advocacy)

د سازمان له مهمو مسئولیتونو څخه د افغان رسنوالو د بنسټې حقونو دفاع او ملاتړ دی. افغان خبریالان د کړکېچ (بحران) په زمانه کې ژوند او فعالیت کوي. په ببلابېلو شرایطو کې د دوی د ملاتړ لپاره ښایي په لاندې برخو کې فعالیتونه مهالویش شي:

د افغانستان مېشتو خبریالانو لپاره څه کولای شو؟

تر ټولو اسیب پذیره رسنوال هغه دي، چې د استبداد او اختناق تر تور سیوري لاندې فعالیت کوي.

له هر راز ناوړه پېښې سره د دوی له مخامختیا سره هممهال باید سازمان د هغوی ملاتړ وکړي.
د افغانستان مېشتو رسنیو او رسنوالو د وضعیت په اړه دقیق اطلاع اخیستل او د اړتیا پر مهال خپرول. له نړیوالو حقوقي او ملاتړ ادارو سره دایمي تماس او **(د افغانستان د وجدان غږ)** په نامه د یوه ځانګړي حقوقي – مشورتي بورد جوړول، چې په کې افغان او بهرنی متخصصین او مدافع وکیلان شامل وي.

د امکان په صورت کې د دغو خبریالانو د بېړني ملاتړ لپاره تر ځانګړي نظارت لاندې د یوه مرستندوی صندوق د جوړولو وړاندیز.
د امکان په صورت کې د افغان رسنوالو لپاره د کلنیو معتبرو جوایزو د تاکنې او ویش بنسټ جوړول.

په سیمه کې د مېشتو خبریالانو د برخلیک او ستونزو لپاره د امکان تر بریده هڅې، په پاکستان، ایران، منځنۍ اسیا او عربي هېوادونو کې یو شمېر خبریالان د یوې نامعلومې راتلونکې په درشل کې ناست دي. له نړیوالو بنسټونو سره د دوی په اړه خبرې او د ژغورلو لپاره يې لازمه صنفي لابي.

په نړۍ کې د خورو ورو کډوالو افغان رسنوالو سره د هغوی د ځانګړیو ستونزو په برخه کې همکاري.
یو لومړیتوب به دا وي، چې مسلکي خبریالان د امکان تر بریده، له خپلې حرفې څخه لرې نه شي. یوه وېره دا ده، چې په لویدیزو هېوادونو کې کډوال خبریالان او رسنوال به د ځانګړیو مهاجرتي قوانینو له مخې په فیزیکي او غیر مسلکي برخو کې کار کولو ته اړ شي.
په دې برخه کې د سازمان مناسب اقدام به وکړای شي، په هېواد کې د ثبات او یوه ملي حاکمیت د ټینګښت په صورت کې رسنیز ظرفیتونه بېرته هېواد ته ستانه کړي او ژر رسنیز ملي نظام بېرته په پښتو ودرولای شي.